د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama.unmissions.org

# رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**علیم صدیق، د یوناما ویاند،**

**داکتر نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر څخه،**

*کابل- دوشنبه د جون د میاشتی اتمه نیټه، کال ۲۰۰۹*

## په کندز کې د خوراک او کرنې د سازمان په دفتر برید

شنبه د جون د میاشتې په ۶ نېټه نیمه شپه مهال د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې د سازمان په دفتر د کندز په ښار کې د ۶ وسله والو کسانو له خوا برید ترسره شو. یو راکټ په انګړ توغول شوی چې په پایله کې یې دوه ساتونکی ټپیان شوی، له نیکمرغه د هغوي ټپونه ژور نه وه او د ملګرو ملتونو ټول کارکوونکی خوندي او حالت یې ښه دی.

تر اوسه د دې برید لامل معلوم نه دی خو دا زموږ لپاره د ډیرې اندیښنې وړ خبره ده چې څوک دی زموږ دفتر تر برید لاندې ونیسي. د کرنې او خوراک سازمان د کندز د بزګرانو سره د هغوي د کرنیزو ځمکو د ودانولو په چارو، حاصلاتو او د هغوي د کورنیو د تغذیې په برخه کې مرسته کوي.

موږ پوهیږو چې د کندز بزګران او خلک به زموږ سره یو ځای هغو کسانو ته چې ددې برید تر شا دي قوي پیغام واستوي، هغوي باید د کندز خلکو ته د اساسي مرستو د ترسره کولو پخاطر د ملګرو ملتونو په بې طرفی باور وکړي.

## د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون به د لازمو شرایطو د نه درلودونکو نوماندانو په اړه خپله فیصله اعلان کړي

لکه څنګه چې تاسو پوهیږئ، د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون به په رسمي توګه سه شنبه د جون د میاشتې په ۹ نېټه د افغانستان د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره اړیکه ونیسي ترڅو په ډاګه کړي چې د راتلونکو ټول ټاکنو لپاره کوم نوماندان سیالي نه شي ترسره کولای.
د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون به سبا د غرمې په دوو بجو یو مطبوعاتي کنفرانس ترسره کړي. تاسو ته بلنه درکوو چې په دی کنفرانس کی ګډون وکړي.

## د بې ځایه شویو وګړو لومړنی کتار بیرته خپلو کلیو ته راستانه شو

نن ورځ د ۸۴ کورنیو داخلي بې ځایه شویو وګړو کتار دې ته چمتو شوی دی چې په کندهار کې د زړی دشت کمپ د خپلې اوسیدني ځایونو ته په شمال کې د فاریاب او په لویدیځ کې د بادغیس او هرات ولایتونو ته د راستنیدنې په موخه پریږدي.

دا سږ کال د داخلي بې ځایه شوو وګړو د راستنیدني لومړنی کتار دی، ټولټال ۹۸۷ کورنی د دې لپاره راجستر شوی دي چې د خپلي اوسیدني سیمو ته په شمال کې په راتلونکو څو اونیو کې راستانه شي. له هغه ځایه چې سږ کال د بیرته راستنیدنې لپاره لیوالتیا زیاته شوی ده، نو ددې هیله کوي چې د ۲۰۰۹ کال دغه لومړنی کتار به په راتلونکو میاشتو کې راستنیدنه لا وهڅوي.

د بیرته راستنیدني عملیات په ګډه سره د کډوالو او راستنیدونکو د چارو د ریاست، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري، نړیوال خوراکي پروګرام، د کډوالی نړیوال سازمان له خوا ملاتړ کیږي. په لویدیځ، جنوب او جنوب ختیځو سیمو کې د راستنیدنې لپاره علاقمندي د داخلي بې ځایه شویو کسانو له خوا هم ښکاره کیږي چې همدا اوس په زړي دشت کمپ کې میشته دي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره خبرپانه د اړخ له میز څخه تر لاسه کړئ.

## د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري د غبرګون ظرفیت لوړوي چې په افغانستان کې د داخلي بې ځایه شویو وګړو اړتیاوو ته ځواب وویل شي

د داخلي بې ځایه شویو کسانو ناوړه حالت د هغې روزنې د اجنډا اساسي موضوع ده چې ځلوېښت افغانان کارکوونکو یې د داخلي بې ځایه شویو کسانو د اړتیاوو په اړه چې د نړیوالو معیارونو او غوښتنو سره سمون ولري تر لاسه کوي.

دغه روزنیز پروګرام د دې لپاره طرح شوی دی چې د ملي چارواکو او نورو همکارانو سره مرسته وشي څو په مناسب ډول د بې ځایه شویو وګړو د حقونو د ساتنې لپاره کار وکړي او د هغو اړتیاوو ته د ځواب ویلو په لار کې مرسته وکړي.

**د خوراکي توکو ویش**
نړیوال خوراکي پروګرام ۷۰۰۰۰ کسانو ته تر اوسه د غذايي موادو ښېرنۍ مرستي رسولې دي، چې په عمده ډول په شمالي او لویدیځو سیمو، خو په مرکزي لوړو سطحو کي هم د دي موادو توزیع روانه ده. د بلخ او بدخشان په ولایتونو کي د سرکونو د جوړولو وروسته د خوراکي توکو مرستي پیل کیږي. خواړه د کار په مقابل کي د کار پروګرام پیل شوی چي د سیلابونو له امله ویجاړ شوی ساختارونه بیا جوړ کړي، سړکونه د اوبه خور د چینلونو او سیندونو د غاړو جوړول په دې پروګرام کي شامل دي.

**په ۲۰۰۹ کي به دوه نور د تغذيي تیراپي واحدونه تشکیل شي**
یونیسف په پلان کي لري چي په ۲۰۰۹ کي د تغذيي تیراپی دوه نور واحدونه د شهرستان او خدر په ولسوالیو کي تشکیل کړي. دغه واحدونه په هغه یوه برسیره دی چي په ۲۰۰۷ د دایکندي په مرکز نیلی کي جوړ شوی وو. دغه واحدونه ځکه جوړیږي چي د دایکندي د ولایت د مختلفو ولسوالیو څخه راپوروته راغلی دی چي ماشومان په خوار ځواکی اخته دي، د مالي کمزوري، د خبرتیا د نشتوالی او دایکندي ته د سختو جغرافیایي شرایطو له امله د لاس رسي سختوالی هم ددې باعث ګرځیدلی دي.

یونیسف په کابل کي ۶ تنه صحي کارمندان روزي (۳ ډاکټران او ۳ تنه نرسان) او ټول وسایل او غذايي مواد لکه بی پي ۵ بسکیټ، وچي شیدې او نور خوراکي توکي مرکزونو ته ورکوي. دغه د تغذيي تیراپی واحدونه به په دایکندي کي له پنځو کلونو څخه د کم عمر په ماشومانو کي د مړیني کچه راټیټه کړي.

**د میندو د مړیني د کچي د کمولو په خاطر د کورنی د پلان کولو پروګرام**
د کورنۍ پلان کول د میندو د مړیني د کچي د کمولو د یوې وسیلي په حیث په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د وګړو د صندوق (یونپفا) د کار په تمرکز کي واقع دی او د خوندی مورولی پر سر ټینګار کوي.

د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق په کابل کي د رابعه بلخي د روغتون سربیره چي دمګړی په فعالیت بوخت دي په جلال آباد او مزار کي د کورنۍ د پلانولو د دوو مرکزونو د پرانیستلو ملاتړ هم کوي.

پر دې سربیره، اوس مهال د لوګر، دایکندي، بامیانو د روغتیايي کارکوونکو د روزني په موخه د د عامي روغتیا په وزارت کي د ملګرو ملتونو د وګړو د صندوق په ملاتړ روزني رواني دي.

روغتیايي کارکوونکي به وکولای شي چي د ټولني او همدارنګه د ولایتونو په کچه د کورنی د پلانولو او پوهاوي د لوړولو، روغتیايي کارکوونکو او خدمتونو د برابرونکو لپاره روزني برابرې کړي. افغانستان د میندو د مړیني د لوړې کچیپه حواله په نړی کي دوهم او په آسیا کي لومړی ځای لری.

د نړی په کچه څیړونکی اټکل کوي چي د کورنیو پلانونولو ته نړیوال لاس رسي به وکولای شي چي هر کال د نږدې ۱۷۵۰۰۰ میندو ژوند وژغوري. د زیږون ترمنځ د لږ تر لږه ۳۶ میاشتو واټن به د ۵ کلونو څخه د کم عمر لرونکو ماشومانو، یعني د نږدې ۱،۸ میلیونو ماشومانو ژوند وژغوري.

**درې اړخیزه تړون په افغانستان کي د کلیوالي سړکونو د جوړولو پروګرام تقویه کوي**
په ارزګان کي به د لارو په ښه کولو سره له ۴۵۰۰ تنو څخه زیات کسانو سره مرسته وشي چي ترینکوټ ته په تګ راتګ کي اسانتیاوي پیدا شي. د دې پروګرام په پایله کي به د سفید ښار، سوفیان او ابوردی په کلیو کي پنځه نیم کیلو متره سړکونه بهتره شي. دغه کار د افغانستان د حکومت د کلیو د پروګرام یوه برخه ده. محلي ټولني به دغه کار په (۲۰۰۰۰) کاري ورځو کي سرته ورسوي. دغه پروژه په ملی سطحه کلیو ته د لاس رسي د پروګرام یوه برخه ده چي له ۲۰۰۲ څخه یې نږدې لس زره کیلو متره سړکونه بیا ودان کړي دي.

د اروزګان پروژه به د ۲۰۱۰ کال تر مارچ د مخه بشپړه شي چي د یونوپس، د افغانستان د حکومت او د بین المللی انکشاف لپاره د استرالیا د اداري له خوا د یوې درې اړخیزې موافقي له مخې بشپړه کیږي.

**د باميانو د پرمختيا په اړه د ملي کاري ډلي غونډه**
د باميانو د پرمختيا موضوع د چهارشنبي او پنجشنبي د ورځي د اجنډا اصلي موضوع ده چي په دغه غونډه کي به ددغه ولايت پر پرمختيا خبري کيږي.

اساسي موضوع د همغږۍ او پريکړي کولو ښه کول دي چي د پرمختيايي پروژو د پلي کولو لپاره معيارونه وسنجول شي. پر دغو ټولو مسلو به د دوهمي کاري ډلي په غونډه کي چي د باميانو د پرمختيا په هکله د ۲۰۰۹ کال د جون په ۱۰- ۱۱ نيټو جوړيږي، خبري وشي.

دا د ۲۰۰۸ کال د هغه مخکيني بريالی پرمختيايي کنفرانس تعقيب دی چي په هغه کي اړوندو وزارتونو او مرستندويه ټولني ته د دغه ولايت لومړيتوبونه او اړتياوې په ښه شوې.

د تير کال د کنفرانس په تعقيب سره ملي کاري ډله ددي لپاره جوړه شوه چي په باميانو کي د پرمختيايي چارو پرمختګ تعقيب کړي: د هوايي ډګر په بله ساحه کي د جوړولو کار پرمخ تللی دی، د نوي زيلنډ د هيواد مرستندويه موسسي ۱،۵ ميليونه ډالره د ايکو توريزم په پروژه کي د باميانو لپاره منظور کړي دي، د ښار پروګرام پلي شوی دی او د سړکونو کار چټکتيا مونډلي او د راستنيدونکو لپاره د آبادولو نوی ځايونه تشخيص شوی دی.

د سږ کال موخه دا ده چي د ۲۰۰۹- ۲۰۱۰ کال لپاره په مشخصه توګه د عمل نقطي تشخيص او هغه پلانونه او پروژې منظورې شي چي د باميانو د ولايت لپاره د ۲۰۰۹- ۲۰۱۰ کال په ملي کالنی بودجه کي په پام کي دی.

**محلي تجارتي کنفرانس، چهارشنبه، جون ۱۰**
غواړو چي تاسو د محلي تجارتي کنفرانس او تجارتي نندارتون لپاره راوبولو چي د جون په لسمه ورځ د سهار په ۸ بجو په سرينا هوټل کي پرانيستل کيږي. د دي کنفرانس موخه دا ده چي د محلي تجارت نوښت پرانيستل شي او نړيوال سازمانونه وکولای شي چي په افغانستان کي محلي توليدات او خدمات راونيسي. په دي کار سره به د افغانستان اقتصاد پياوړی شي او په محلي ټولنه کي به کارونه زيات پيدا شي. د کنفرانس کوربه توب به يوناما او د پيس ډيواډند ټرست په ګډه سره کوي او خاص استازی کای ايدی، د امريکا د متحده ايالاتو سفير آيکنبری او د اقتصاد وزير ډاکټر شمس به ميلمانه وي.

**زموږ د راډيو پروګرام او د ټاکنو لپاره د نوي ويب پاڼي پرانيستل**
يوناما او راډيو افغانستان د جون په ۱۳ د شنبي په ورځ د سهار په ۸ بجو خپل راډيويي پروګرام پيل کړی. په دي پروګرام کي "افغانستان نن ورځ" خبرونه او اوسنی چاري شاملي دي او د جميل دانش له خوا په ډاډ سره په مخ بيول کيږي. د دي اونی پروګرام په يوه موضوع باندې متمرکز دی چي موږ ټول له هغه څخه متاثر شوی يو يعنی د ماشومانو کار او دغه راز د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو لپاره به د تياريو او لوژيستکی چارو په باب راپور هم وړاندي شي. دغه پروګرام د شنبي په ورځ په ۸ بجو واورئ.

دغه راز موږ په خوښی سره خبر ورکوو چي يوناما د ټاکنو په باب يوه نوي ويب پاڼه پرانيستي ده. که تاسي تر اوسه دغه ويب پاڼه نه وي ليدلي، لطفا هغي ته يو نظر واچوئ. په دي پاڼه کي د ټاکنو په باب خبرونه، عکسونه شته او کولای شئ د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون، د ميډيا د کميسيون او په دي باب معلومات تر لاسه کړئ چي د ملګرو ملتونود پرمختيايي پروګرام د ټاکنود څانګي په ذريعه څه نقش ادا کولای شي. د ويب پاڼي پته او نور اړونده معلومات د څنګ سره د ميز په سر شته.

**د پوښتنو او ځوابونه برخه:**

**د آزادی راډيو:** لکه څنګه چي تاسو پوهيږي يو شمير افغانان د ځينو نوماندانو د نومونو په اړه څوک چي د جنګ سالاری او بشري حقونو د سرغړونو په تور تورن دي انديښني لري. تمه کيږي چي د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون به د جون د مياشتي په ۲۲ نيټه د نوماندانو نهايي لست خپور کړي. زه غواړم يوه شم چي په دي هکله يوناما څه کولای شي يا په بل عبارت يوناما د افغانستان د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون ته د خلکو د انديښنو د لرې کولو لپاره کوم وړانديزونه کوي؟

**یوناما، نیلاب مبارز:** ستاسو د پوښتني په حواله باید ووایم، نه غواړم په هغه نظر نور معلومات اضافه کړم چي ما وړباندې د مخه خبرې وکړې. ما په ډاګه وویل چي دا د ټول ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون او د افغانستان د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون دنده ده چي په دې هکله پریکړی ترسره کړي، ځکه چي دا نهادونه د سړ کال د ټول ټاکنو د دایرولو مسولیت لري، موږ به هرو مرو د افغانستان د خلکو او د دغو سازمانونو ملاتړ کو، زموږ دنده د هغو لپاره د ملاتړ برابرول دي، موږ تمه کوو چي دغه ټول ټاکني به د افغانستان د خلکو او د هغوي د تجربو لپاره مساعد چاپیریال رامنځ ته کړي.

**راه فردا:** د افغانستان پارلمان رخصت شو بې له دې چي د ټاکنو قانون تصویب کړي. یوناما په دې باره کې څه غبرګون ښيي؟

**یوناما، نیلاب مبارز:** د قانون په اړه تاسي پوهیږئ که نوی قانون تصویب نه شي، نو د هغه په ځای پخوانی قانون د اعتبار وړ وي. او دغه خبره د ټاکنو د قانون په باره کې هم صدق کوي. که تاسي په دې اړه نورې پوښتني لرئ کولای شي زموږ له همکارانو څخه يې د صبا ورځي په مطبوعاتي کنفرانس کې وکړئ.

**یوناما، علیم صدیق:** زموږ مشوره او هیله دا ده چي د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون او د ټول ټاکنو مسولین به په دغه هیواد کي د ټاکنو قانون د سړ کال په ټاکنو کي به پلی کړي. موږ لومړی کسان یو چي د سړ کال د ټاکنو د ځینو نوماندانو د شالید په اړه د خلکو اندیښنی تایید کړیدی. زموږه مشوره د افغانستان خلکو ته دا دی چي که چیري دوي د ځینو نوماندانو د تیر وخت په اړه کومه اندیښنه لري، هغوي ته دی رایه ورنکړي. کله چي تاسی د رایو ورکولو بکس ته ودریدئ، نو هلته یوازی تاسی یاست او د رایو ورکولوبکس. د خپل کور لپاره رایه ورکړئ، د خپل هیواد لپاره رایه ورکړئ.

**سبا تلویزیون:** پرون د چارواکو وویل چي په هیواد کي داسي ۱۰ ناامه ولسوالی شته چي په هغو دولت کنترول نه لری. هغوي دا هم وویل چي ددې ولسوالیو د بیرته نیولو لپاره اړتیا نه لیدل کیږي، خو ددې ولسوالیو خلک اندیښنه لري چي هغوي به و نشي کړای چي د هیواد په راتلونکو ټول ټاکنو کي برخه واخلي. په دې هکله خپل نظر وړاندې کړئ، دوهم، د هغو نوماندانو په وړاندې چي خلکو د هغوی په هکله شکایتونه درج کړي خو هغوی د خلکو د شکایتونو په وړاندې چپ پاتي دي، په دې هکله ستاسو دریځ څه دی؟

**یوناما، نیلاب مبارز:** موږ ډاډه یو چي حکومت به د هیواد په کچه امنیت تامین کړي څو خلک وکولای شي خپلي رایي صندوقونو ته واچوي. خو ربښتیا دا دي چي ۱۰ ولسوالي نا امنه دي. د دغو غوره کیدو وړ رای ورکوونکو یوازي ۱ تر ۲ سلینه خلک په دغو نا امنو ولسوالیو کي ژوند کوي. موږ هیله کوو چي په دغو ۱۰ ولسوالیو کي امنیت تامین شي. خو که چیرې په دغو سیمو کي امنیت تامین نه شي نو بیا به یوازې ۲ سلینه خلک و نه کړای شي چي خپلي رایي په صندوقونو کي واچوي، خو غټ اکثریت یعنی ۹۸ سلینه خلک به وکولای شي چي خپلي رایي استعمال کړي. موږ هیله لرو هغه کسان چي په امنه سیمو کي اوسي، د رای ورکولو مرکزونو ته ولاړ شي او خپلي رای واچوي. د هغو کاندیدانو د چا په اړه چي شکایتونه درج شوی هغوي د نن ورځي تر پایه وخت لري څو د هغو شکایتونو په وړاندې چي د دوي پر ضد ثبت شوی ځواب ووایي، څو د ټول ټاکنو خپلواک کمیسیون وکولای شي د هغوي په هکله پریکړه ترسره کړي.

**نګاه تلویزیون:** داخلي بې ځایه شویو کسانو پخوا ادعا درلودله چي د هغوي د میشتیدو په اصلي ځایونو کي د ژوند فرصتونه شتون نه لري. د یوه بوجې وړو په ورکولو سره نه شي کیدای د هغوي ستونزو ته د حل لار پیدا شی. تاسو د هغوي لپاره کومي اوږد مهاله حل لاري لرئ؟ دوهم، د زایدان د بریدونو په اړه یو شمیر افغانان نیول شوی، غواړم په دې هکله ستاسو په غبرګون پوه شم.

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری، نادر فرهاد:** زه غواړم ځینو ټکو ته اشاره وکړم. زموږ هڅي نه یوازې د داخلي بې ځایه شویو کسانو اصلي ټاټوبو ته د هغوي استول دي بلکه موږ د هغوي لپاره په اوږ مهاله حل لارو هم تمرکز کوو. د یوې حل لارې پرسر چي موږ د افغان چارواکو سره خبرې کړې هغه په هغو سیمو کي چي اوس مهال هلته داخلي بې ځآیه شوی کسان ژوند کوي د هغوي د بیا یو ځای کیدني پروګرام دي. دا به د هغو کسانو لپاره چي په ۲۰۰۱ کي د هیواد د جنوبی سیمو څخه راغلي او تر اوسه هلته ژوند کوي یوه ځانګړې حل لاره وي.

د زاهدان د مسلې په اړه باید وویل شي چې موږ د دغې پیښې په اړه کوم دقیق معلومات نه لرو. په دې هکله باید ارزونې ترسره شي ترڅو دا جوته شي چې هغوي څوک دي، آیا هغوي ثبت شوی افغانان دي، آیا هغوي نیول شوي دي یا نه. که چیرې هغوي کډوال وي، نو بیا د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دریځ روښانه دی، موږ به مداخله وکړو، موږ به د هغوي د حقونو څخه دفاع وکړو ترڅو هغوي ازاد کړای شي.

**د تمدن تلویزیون:** پرون نړیوال بانک یو راپور خپور کړ چې په هغه کې ویل کیږي چې په افغانستان کې فساد د لومړی ځل لپاره کم شوی دی، خلک وایې چې هغه په زیاتیدو دی، یوناما دغه مسله څه ډول ارزوي؟

**یوناما، نیلاب مبارز:** هر وخت چې نړیوال بانک او یا هم د ملګرو ملتونو نورو سازمانونو دغه ډول راپوررونه خپاره کړی دي، هغه پر واقیعتونو، ارقامو او اسنادو ولاړ دی او موږ دا یو ښه خبر بولو. همدارنګه هغوي د خپلې نوې ستراتیژۍ په اړه د افغانستان لپاره د جون په ۴ نېټه یوه خبري پاڼه خپره کړې وه چې د هغې په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره مشوره کولای شي.

**یوناما، علیم صدیق:** زه غواړم یو څه اضافه کړم، دا چې موږ ټول فساد په افغانستان کې د یوې واقعي مسلې په توګه پیژنو، دا د افغانستان د دولت او نړیوالې ټولنې دواړو هلې ځلې تر پوښتنې لاندې راولي، چې هغوي غواړي د افغانستان د خلکو لپاره پرمختیا چټکه کړي. هر چیرته چې موږ فساد ګورو هغه څه چې زموږ مخ ته کیږي هغه د بدې حکومتدارۍ نښې نښانی دي، فساد د کمزورې او ناوړه اداري ښکاره نښه ده. د فساد علاج دا دی چې د افغان دولتي موسسو ظرفیت لوړ کړای شي، د قانون حاکمیت راشي، دولتی موسسې څو چې طرز العملونه، کنترول او توازن سم ترسره او په دې توګه د فساد مخنیوی وشي. د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی کای ایده د افغانستان د دولتي موسسو د بیا جوړوني کارته د یو ستر پروګرام په چوکاټ کې ډیر اهمیت ورکوي، څو چې دولتي موسسې جوړې شي او په دې توګه د فساد مخنیوی وشي. د افغانستان دولت په دې مسله ښه پوهیږي او موږ په کلیدي وزارتونو کې د افغانستان د دولت زیات اقدامات په تیر کال کې ولیدل. موږ غواړو چې د پرمختګ دغه لار تعقیب کړو او د اصلاحاتو بهیر پر مخ بوځو چې په دې توګه موږ د فساد د بلا څخه ځان وژغورو او د افغانستان د خلکو لپاره د پرمختیا شرایط مساعد شي.

**سلام وطندار:** لس ولسوالي نا امنه پاتې دي او تاسې وویل چې یوازې یو یا دوه په سلو کې هلته داسې کسان اوسي چې د رایې ورکولو حق لري. که ټاکنې وشي او دغه یو یا دوه فیصده خلک له رایې ورکولو څخه محروم پاتې شي ایا دوی مهم نه دي؛ تاسې فکر کوئ چې دغسې ټاکنې به شفافه او عادلانه وي؟

**یوناما، نیلاب مبارز:** که اجازه وي چې زه بیا خپله خبره تکرار کړم ښایې ستاسې قناعت حاصل شي. موږ په دې یقین لرو چې افغان چارواکي به دغو خلکو ته د رای ورکولو فرصت برابر کړي، خو د افغانستان د امنیتي وضعې حقیقت داسې دی چې ښایې ځینې داسې ولسوالی وي چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون هغو ته لاس نه رسیږي. خو د دې خبرې یادول مهم دی چې دغه ولسوالی د افغانستان د ۳۷۸ ولسوالیو څخه یو اقلیت جوړوي او امکان نه لري چې د ټاکنو عمومي مشروعیت تر سوال لاندې راولي ځکه دغه ولسوالی د افغانستان د ټولو هغو خلکو چې د رایې ورکولو حق لري له یو څخه تر دوو په سلو کې جوړوي.

موږ د هغو یادونه وکړه چې راجستر شوی دی او موږ دوی تشویق کوو چې په ټاکنو کې برخه واخلي او هیله من یو چې هغه کسان هم خپلې رایې ورکړي چې په نا امنه سیمو کې اوسي. موږ دا هم ویلی شو چې په دې وخت کې هیڅوک هم ددې وړاندوینه نشي کولای چې دغه سیمې به نا امنه پاتې شي او که څنګه.

**طلوع تلویزیون:** زما پوښتنه د لسو نا امنو ولسوالیو په باب ده. پرون ورځ د دفاع وزارت په څرګنده وویل چې دوي به یوازې د دې هڅې وکړي چې له لسو ولسوالیو څخه دوه ولسوالۍ ونیسي، نورې پاتې ولسوالۍ مهمې نه دي او دوي به هڅه ونکړی چې هغه بیرته ونیسي. د یوناما نظر په دې باب څه دی؟ ایا دغه به ددې خلکو سره بې انصافي نه وي چې په ټاکنو کې برخه وا نه اخلي؟

**یوناما، علیم صدیق:** اجازه راکړئ یوه خبره څرګنده کړم. د افغانستان حکومت او بین المللی ټولنه له هر افغان څخه غوښتنه کوي چې له خپلو قانوني او دیموکراتیکو حقونو څخه استفاده وکړي او ددې کال په ټاکنو کې برخه واخلي. دغه زموږ غوښتنه او ارزو ده او موږ خپلې ټولې هڅې دې لورې ته اړوو. اوس د دې پروسې

په شروع کې موږ غواړو چې دغه پروسه باید ډیره شفافه وي. او په دې کې هم ستونزې شاملې دي او اسانتیاوې هم. هر انتقادي فکر به دا خبره ومني چې د اوسنیو امنیتي شرایطو لاندې د ټاکنو سرته رسول به د ټولو ښکیلو خواوو لباره ډېر ستونمن وي. د پرون ورځې مطبوعاتي کنفرانس چې تاسې لیدلی دی د افغانستان حکومت هڅه کړې ده چې هغه ستونزې چې دوی به په راتلونکو اونیو او میاشتو کې ورسره مخامخ وي په څرګند ډول و وایې. موږ د افغانستان د حکومت له دې تصمیم څه راضی یو چې غواړي ټول ملک ته یې لاس ورسیږي. د افغانستان حکومت دوه ولسوالی انتخاب کړې دی چې هلته به دوي عملیات کوي. لیکنې په یاد ولرئ چې دا یو نا معیین تصویر دی. امنیتي وضعه بدلیږي او زه یقین لرم چې د افغانستان حکومت به د لسو ولسوالیو په باب بل فکر وکړي. که داسې امکان پیدا شي چې په دې لسو ولسوالیو کې ټاکنې وشي د افغانستان حکومت به د بین المللی ټولنې په مرسته هره هڅه وکړي څو د انتخاباتي حوزې دې برخو ته ورسیږي. موږ له ټاکنو څخه درې میاشتې مخکې یو او په دې لسو ولسوالیو کې به پرمختګ په راتلونکو میاشتو او هفتو کې له نږدې څخه څارو.